# د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو زياته دعا به دا وه: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». "اې الله زمونږ ربه، موږ ته په دنيا او اخرت کې خېر راکړه، او د اور له عذابه مو وساته

له انس رضي الله عنه څخه روايت دی وايي: د رسول الله صلى الله عليه وسلم تر ټولو زياته دعا به دا وه: «اللَّهُمَّ رَبَّنَا آتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً، وَفِي الآخِرَةِ حَسَنَةً، وَقِنَا عَذَابَ النَّارِ». "اې الله زمونږ ربه، موږ ته په دنيا او اخرت کې خېر راکړه، او د اور له عذابه مو وساته".
[(صحيح] [متفق علیه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم به ډيری وخت جامعه دعاګانې کولې چې له هغو څخه يوه دا ده: "اللهم ربنا آتنا في الدنيا حسنة، وفي الآخرة حسنة، وقنا عذاب النار"، دا دعا د دنيا ښېګڼو ته شامله ده، لکه خوندور، پراخه او حلال رزق، صالحه مېرمن، داسې اولادونه چې سترګې پرې يخيږي، هوساينه، ګټور علم، نيک عمل او داسې نورې مطلوبې او روا غوښتنې او د آخرت خېر لکه: د قبر او آخرت سختو حالاتو او د جهنم له عذابونو څخه په امن کې پاتې کېدل، د الله جل جلاله خوښي او ابدي نعمتونو تر لاسه کول او ډېر مهربان رب ته نږدې کېدل.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5502